# د مورنو ژبو نړیواله ورځ او پښتو ژبه

رحمت شاه سایل

تـاریـخـي ژبـه،قـامي ژبه او تاریخي ژبه هـغـه وي کـومـه ژبـه چې د خپـل قـام د ثقافت په زمـکه کښې د زرګونو کالو نه جرړې لري. په دې حـوالـه د دې ملک دننه ټولې لوئې لوئې ژبې دغه حیثیـت لـري. بنګالي نن د بنګله دیش قامي ژبه ده. او د مـورنیـو ژبـو نړیواله ورځ چې نن په ټوله دنیـا کښې نـمـانځـلے کېږي دا هـم د بـنګـال د طـالـبـعـلـمـانو د توئې شوې وینې د احساس د رڼا وجه ده.

ژبــه د ثـقـافـت تـصـویر او ثقافت د ژبې تـصـویر وي. دا تصویرونه عامو خلقو ته یو ژوند ورکوي. او د ذهني نشونما پکښې کېږي.

د نـور کـلـه پـه نسبـت سـخکال په عامو پښتـنـو کښې هـم دغـه ورځ اونمانځلے شوه د دې وجـوهـات بـه نـور هم ډېر وي. خو دوه څلور غټې غټې وجې هـم لـري. یوه لویه وجه ئې دا ده چې په پښتـنـو افغانانو چې کومه لویه حادثه راغله. هغې درې څلور لسیزې پښتانه افغانان لکه د کر د دانو پـه ټـولـه دنیا اوشیندل د هغې د سیاسي ضرورت دپاره دې ژبې په فرنټ او الیکټرانک میډیا کښې یـو ځـائې پیدا کړو. په دنیا کښې ریډیوګان او ټي وي ګـان جـاري کـړے شـو. په خپله په افغانستان




کښې پـه شـلګـونو ټي وي ګان او ریډیوګان مېنځ تـه راغـلـل. او دلته په پښتونخوا کښې شلګونو ریډیـوګـان پـرانسـتے شو. دغسې په اخبارونو او رسـالو کښې اضافې اوشوې. او د دې سره سره په سوونو زرګونو کتابونه په پښتو کښې چاپ شو. د ډېـرو نـایابو کتابونو ترجمې اوشوې. چې په دې حواله لا پوره پوره څېړنې نۀ دي شوي.

دویـمه وجه ئې په سر سر کښې د شاعرانو ادیبـانـو د ادبـي ثقافتي او نورو فلاحي تنظیمونو سـره سـره هـر کـال په لږ یا ډېر تعداد کښې د دغې ورځ نـمانځل وو. او په خصوصیت سره په سوشل میډیا د ژبې طرف ته د تخلیق کارانو تخلیقاتو او پښتـو سـنـدرو په وجه عام خلق د خپلې ژبې سره ډېر رانزدې شوي وو.

دریــمــه وجـــه ئې دا ده چې څـو ورځې مخکښې په ګوګل کښې چې پښتو د یوې ژبې په حیثیـت کـوم مـقـام اومـوندو. هغې دا خلق یعنې پښتـانه اوزېړول.

څلورم سخکال عوامي نیشنل پارټۍ چې دا د پښتنو یواځینے نمائنده پارټي ده. دوي په هره

ضلع کښې دغه ورځ اونمانځله. او دغسې د شریکې ژبې سره د وابستګۍ دغې جذبې د پښتو او پښتون ترمېنځه هغه د بنګانګۍ مسئله د مېنځه یوړه او خلقو ته د ژبې د ضرورت احساس اوشو. او د ژبې سره ئې په ړومبي ځل مینه پېدا شوه. داسې مینه چې اوس ئې هیڅوک د یو بل نه لرې کولے یا شوکولے نۀ شي. په دغسې حالاتو کښې هم کله کله سړي له ژړا ورشي. چې ځینې خلق د پښتنو او پښتو سره د مینې دعوې هم کوي. هغوي په خپله کله کله داسې غلطي په ډاګه کوي او هیڅوک ترې تپوس هم نۀ کوي. مثلاً ډېر مشران د پښتنو برملا وائي چې ما له خو پښتو نۀ راځي!!! د افسوس خبره دا ده چې دا هغه په داسې فخریه انداز کښې وائي چې اوس ئې د یو فېشن شکل اختیار کړے دے او چې څوک ئې په دې ټوکي نه نو کوم ندامت هم ور ته نه کېږي. هسې خو اوس په ښادیو کښې کارډونه ځینې انګریزي زده خلقو د لوئې والي نخښه ګڼلې ده خو په تېرو ورځو کښې را ته چا یو کارډ راوړو نو په انګریزۍ کښې ۇ خو د پاسه ئې پرې لیکلي وو چې باچاخاني په کار ده. ما ور ته اووې چې باچاخان خو وائي چې...,,د کوم قام نه چې ژبه ورکه شي هغه قام ورک شي،،.... او کوم قام ته چې خپله ژبه سپکه شي هغه قام سپک شي!!،،

هغوي ته هیڅ قسم ندامت اونه شو. نو ما وې چې دا باچاخاني به مونږ څه ته وایو؟ په دې حواله اوس په دنیا کښې هم او زمونږ په خلقو کښې هم ډېر بدلونونه پېدا شوي دي. باید چې مونږ د دې جائزه واخلو. زما څو تجویزونه دي چې که په دې مونږ پښتانه غور او فکر اوکړو نو مونږ ډېر زر د یوې مقتدرې ژبې خاوندان کېدے شو. یو دا چې د پښتنو ترمېنځه د خط و کتابت او سیاسي وي که غیر سیاسي خبرو دپاره پښتو لازمي شرط ګرځول په کار دي.

دویم. د پښتنو او پښتو ژبې سره وابسته خلقو له په خپلو کورونو،دوکانونو،ګاډو او د کاروبارونو په ځایونو کښې په بورډونو په سر کښې پښتو لیکل په کار دي او باقي نورې ژبې.

دریم. مونږ له پښتو ژبه یوازې د سکول کالج نۀ بلکې د روزګار ژبه جوړول په کار دي. په هر سکول او هر کالج کښې د پښتو استاد نۀ وي دا د دې ژبې سره د ډېرې بې وفائۍ نخښه ده. دا بۀ کول په کار وي.

څلورم. دا به د دفتر او قانون ژبه هم جوړول په کار وي. زمونږ په دفترونو او عدالتونو کښې هم زمونږ د بنبادي حقونو سره لوبې ټوقې کېږي او مونږ پرې پوهېږو هم نۀ!! ښه به وي چې مونږ په هسکو سترګو هسکه غړۍ چا ته وئیلے شو چې باچاخاني په کار ده. او دا ژبه نه یوازې زمونږ حق دے بلکې دا اوس یوه معاشي مسئله هم ده. د پښتو په الیکټرانک او فرنټ میډیا کښې اوس هم زمونږ د تعلیم یافته ځوانانو چې کوم استحصال کېږي دا په دې نوي دور او زمانه کښې انتهائي زیاتے دے.